# د شلمي صدۍ پښتون نېشنلزم د قاضي ملا عبدالسلام اڅکزي د شعر په هینداره کې

## Pashtoon Nationalism: In the light of Mulla Salam Achakzai's Poetry

فضل آشنا*

**Abstract:**

In this article, the researcher has strived to pinpoint the core of nationalism throughout historical perspective. Notwithstanding, it has also been tried to identify the main reasons of nationalism at global level. While, questions regarding the emergence of nationalism have also been critically discussed and answered scholastically in the paper. Whereas, so for as the question of Pashtoon nationalism is concerned, the scholar has traced its roots in the 17th century hegemony of the Mughal empire over Pashtuns.With the advent of British emergence in subcontinent, consistent oppressions against Pashtuns pave to way to nationalism that is stemmed in the geography, culture, language and people. The early decades of 20th century figured out an outlier Pashto poet, Mulla Salam Ashezai's who perpetuated the notions of Pashtun nationalism in the British controlled area of British Balochsitan. He selected poetry as tool to awake the Pashtuns and see the visible and secret missions of British agents in Afghanistan and the so called British Balochistan.

**Key words:** Pashto Poetry, British India, Mullah Salam Ashezai, Nationalism, South-Pashtoonkhwa.

**د موضوع پېژندګلو:**

د ملت پالني یا نېشنلزم اصطلاح که څه هم په پښتنو او نورو قومونو کښي په بیلا بیلو ډولونو کښي شتون درلود، د اوولسمي صدۍ د مغول امپراتورۍ په ضد ولاړ خوشحال خان خټک د پښتنو د یو والي درس په تکرار سره کوي، د وطن، خاوري، اولسونو او وسائلو ذکر کوي، او د خپل اختیار د ګټلو لپاره د اولس اتحاد او یو والی اړین بولي.

خو د نېشنلزم یا ملت پالني ټکی د نورو ډېرو ټکو او اصطلاحاتو غوندي د یورپ د بیدارۍ او د امریکا د آزادۍ د واقعاتو سره تړون لري. د تاریخ لیکونکو پر دې اجماع ده چي دغهٔ ټکی په لیکنو او وینا کښې د اتلسمي صدۍ پیداوار دی چي د فرانس د انقلاب (۱۷۷۹)او د امریکا د آزادۍ (۱۷۷۵) په نژدو کلونو کښي کارول شوی دی او تر نولسمي صدۍ پوري دغهٔ ټکی د نړۍ د سیاست و قاموسونو ته یو ډول مخه کړې ده.

---

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan,Quetta

په شلمي صدۍ کښې چي کله په هندوستان کښي د انګريز سامراج په ضد غورځنګونه راپورته شول، د افغانستان استقلال د انګريزي استعمار هغه وېره ماته کړۀ چي ګوا دوی ته هم ماته ورکول کېدلی شي، د هم دې واقعې سره په هندوستان کښي د آزادۍ مړې هيلي را ژوندۍ شوې. انګريزي استعمار په لومړي نړېوال جنګ کښي ډير ټخونه خوړلي وو، معاشي وضع يې هم برابره نه وه، ځکه نو دلته په هدنوستان کښي پر له پسې مبارزه پېل شوه، د ګاندهي جي، باچا خان سياسي مبارزه په هندوستان او په اوسني خيبر پښتونخوا کښي په اولسونو کښې ړوڼ پيدا کړی ؤ، دلته د انګريز تر ولکې لاندي هغۀ سيمه چي له افغانستانه را پرې شوې وه، او د برتانوي بلوچستان په نوم نومولی شوې وه، هم د خان شهيد عبدالصمد خان د سياسي مبارزې په برکت پر ويښېدو وه، خو بيا هم د سيواد کمبوت او د پښتنو قبائلي رغښت ، کليوال او کوچي ژوند او د لويو ښارونو نشتون داسي ستونزه ده چي د اولسونو په راويښولو کښي ساختياتي او بنستيز لاملونو وو.
د پښتنو او انګريزي استعمار تر منځ پرله پسې او دوام داره دغرو که يوه لورته پر افغانستان د انګريزي استعمار وله او اکمني ختمه کړه خو د افغانستان د استقلال لس کلونه لا نه و پوره چي د انقلاب موسس او د نوي افغان ملت او رياست بنسټګر غازي امان الله خان د انګريزي استعمار د دوسيسو ښکار شو. په هم دې وخت کښې ملا عبدا لسلام عشيزئ د اولس د تنظيم وحدت او ويښتابه لپاره ميدان ته راغلی دی او د خپلي شاعرۍ شپېلۍ يې د کښو او ويدو پښتنو د راويښولو لپاره په دومره موثره توګه وئيلې ده چي د انګريزانو غوږونه يې ور وسوځول. د هغۀ د يو شعر په مصداق:

**ملت پالنه او د انساني ټولني ارتقائي يون**:

د ملت يا نېشن د تصور په حکله ډير بحث کيدلی شي، چونکه دا په اوسنۍ زمانه کښي د يورپي نو آبادکارۍ د تاريخ سره تړلی يو داسي تصور دی چي په اوسمهاله نړيوال سياسي بحث کښي يو مستعمل ټکی او تصور دی ځکه نو دلته هم دغۀ تصور سنجول پکار دی. د برټانيکا قاموس پر پاڼو د ملت پالنې يا نيشنلزم پېژندګلو څه دا ډول شوې ده.

> "Nationalism is an ideology that emphasizes loyalty, devotion or allegiance to the nation or nation state and hold that such obligations outweigh other individual or group interests" (1)

**ژباړه**: ملت پالنه يوه مفکوره ده کوم چي د يوه قام (اولس) يا قامي رياست سره د وګړو وفاداري، عقيدت يا خواخوږي باندي زور ور کوي، او پر دې خبره ټينګار کوي چي د قام يا قامي رياست ګټه تر هر ډول ځاني او ډله ايزي ګټې مقدمه ده.

په اولسونو په اجتماعي شعور کښي د قامولۍ تصور څه ډول غزوني کوي، څه ډول را پیدا کیږي په دې هکله د پولیټېکل سائینس بیلا بیل مفکرین او محقیقین بیلي رایې لري، او یقینا د وخت او ځای د بیلتون سره لکه هره ټولنیزه پدیده چي بدلیږي د ملت پالني یا قامولۍ د تصوراتو په اولس کښې خپربدل هم د ګڼ شمیر داخلي او خارجي لاملونو سره اړه لري. ډاکټر مبارک علي په خپل کتاب کي نیشن او نېشنلزم داسي لیکي:

" یورپ میں قومی شعور جمہوری عمل کی وجہ سے آہستہ آہستہ ابھرا۔ بکھرے لوگوں کو آپس میں ملایا عہد وسطی میں برطانوی یا فرانسیسی قومیں تھی۔ مگر ان میں قومی شعور نہیں تھا۔ عہد وسطی ہی میں معاشرہ امراء اور رعایا میں بٹا ہوا تھا لیکن جب قومی شعور آیا تو لوگ یا عوام ایک قوم بن گئی کہ جس میں امیر و غریب سب سے ہی شامل تھے۔ یورپ کے دانشوروں نے قوم کی جو تعریف کی ہے، اس کے مطابق ایک قوم کے لیے ضروری ہے کہ اس کی پاس وسیع رقبہ ہو اور فطری ذرائع ہوں۔ ".(2)

هم دغۀ ډول د قام او قام ولۍ په حکله د یورپي سرمایه دارانه نظام پولونکي یو نظر وړاندي کوي او د هغوی اپوټۀ د اشتمالي فکر مبارزان او مفکرین بل نظر لري. په دې ډاکټر مبارک علي په خپل یاد شوي کتاب کښي د سټالن د قامولۍ تصور هم د ذکر وړ دی کوم چي د ټولنیزو او معاشي ډلو تر منځ وحدت ته یو قام وائي، خو د هغۀ د قامولۍ پر تصور تر ټولو لوی اعتراض هم دا دی چي هغه د بیلابیلو ژبني مذهبي، کلتوري او تهذیبي ډلو و شناخت ته هیڅ اهمیت نه ورکوي، او دا فکر لري چي د یوه قام جوړېدلو لپاره لازمي ده چي بائید ټوله یوه ژبه ؤ وائي(3).

د قامولۍ د تصوراتو او مفکورو پرته په شلمي او یویشتمي میلادي صدیو کښې موږ ته په دنیا کښې بیلا بیل قامونه او اولسونو مخي ته راځي چي د قامیت اساس یې سره بېل دي. لکه څه ډول چي د پاکستان قامي تشخص پر دوو توکو ولاړ دی چي یکښې مذهب، او ژبه (اردو) بنیادي توکي دي، همدغۀ ډول په ځینو نورو نظریاتي قامي ریاستونو کښي بیا نسل یا نژاد اهمیت لري، خو د نړۍ هغۀ قامي ریاستونه چي تر اوږدې مودې پکښې جمهوریت پاتي شوی دی ورو ورو د ویني او نسل ، مذهب او رنګ د توپیرونو څکه راوتي دي او د قامیت اساس پر خاوره ایږدي او خاوري او وطن ته پر هر څه اولیت ورکوي، پر هغۀ خاوري اوسېدونکي ټول ژوي د هم هغۀ ځایٔ وګړي او مالکان ګڼي او یو ډول قانوني چلن ورسره کیږي. تکړه لیکوال ډاکټر عبدالباقي دراني په خپل کتاب د فکر ټال کي داسي لیکي.

"په نوې دنیا کي خو نسلونه، ژبي، کلتورونه ټول سره ګډوډ شول، لکه چي اوس په امریکا او یورپ کي لیدل کیږي داسي ډېر خلک چي پلار یې له یوه نسله وي او مور یې له بله یا یې د پلار ژبه یوه وي یا دمور ژبه دغه رنګه ګډ وډ خلک هر چیري په نفسیاتي توګه په ځان کي

د تشخص کمی محسوسوي،پخپله د امریکه دانشوران هم اوس دنېشنلیزم په اړه فکر مند دي او په جدید دور کي د نېشنلیزم د اصل شکل په اړه بېلا بېل دلایل ورکوي، لیکوال ویبي او رابرټ اېچ " په خپل اثر "موږ څوک یو"کي پر همدغه مسئله بحث کړی دی. څکه د نسل او ژبي روزنه قامونه توانا ساتي او د نړۍ پر مخ ورته بقا ورکوي په کومو ټولنو کي چي نسل له منځ لاړ شي هلته ژبه بیا هم قام ژوندی ساتي او کله چي ژبه هم پاته نه شي نو بیا ملت د قام په معنا اخستل د خلګو مجبوري شي په امریکا او یورپ کي دغسي خلګ بیخي ډېر دي چي د مور او پلار نسلونه یې بېل بېل دي او قومیت یوازي د پلار په نسل پوري تړل هم نه وي ځکه نو د یوه وطن اوسېدونکی یو قام ګڼل کیږي-"(4)

د پښتنو ستونزه د نړۍ د هغو قومونو څخه په ډېرو حوالو بیله ده چي پکښې د قامي رایست ادارو ارتقا کړې ده. دلته د قبائلیت د تور او تنګ نغم (سورنګ) څخه اولسونه د قانوني، انتظامي، تعلیمي او کلتوري ادارو د مرستي او تربیې په اساس نه دي وتلي، بلکه د انګریزي دور ګورننس د ازادۍ وروسته هم پلي پاتي شوی دی چي له کبله یې زیاتره کلیوال او کوچیاني پښتانه د نوی قامي ریاست د وګړو (شهریانو) په صفت خپل شناخت پیدا نه کړ.

**د انګریز په ضد د پښتون قامولۍ رووړ او ملا سلام بابا:**

قاضي ملا عبدالسلام اڅکزی د شلمي صدۍ په هغو پښتنو شاعرانو کښې شمیرل کیږي چي د انګریزي استعمار د بشپړۀ کلتوري، تهزیبي، انتظامي ، مالي او تعلیمي عمل سره یې په دوامداره توګه ډغره وهلي وه. هغۀ د چمن سره نزدې د کوږک دغره په په لمن کښې د شیلا بغ سره نزدې په ښاخۀ کلي کښې د ملاحبش کره سترګي خلاصي کړي دي، ډاکټر رفیقي یې د خپلو تحقیقي ګروېږنو پر بنسټ د زوکړي کال ۱۸۸۳ ښودلی دی.(5) په ختېه اشېزی ګوجنزی اڅکزی ؤ. د قلعه عبدالله د تحصیل چمن په شاله باغ په خپل پلارني ټاټوبي کلي شاخه کي وزېږدی

د قاضي ملا عبدالسلام د زیږون څخه درې کاله وړاندي د ګندمک تړون شوی ؤ، د چمن، پښین، سیوۍ، کوټې او د قراقرم سیمي د افغانستان څخه را پرې شوي وې او برتانیو هند په وجود پوریي شوي وې. سهېلي پښتونخوا د کندهار څخه را بېله شوي وه چیري چي قاضي بابا هم مېښته وو.. لومړۍ زدکري یې د خپل پلار څخه پېل وکړې، ورسته د لوړو زدکړو دپاره کندهار ته ولاړی. د فراغت ورسته په پښین ولسوالۍ (ضلع) د ګلستان په تحصیل عنایت الله کاریز کې امامت کاوه. د سختو کړاونو شاید پاته سو ۳۶ کاله پس خپلي کلي ښاخه ته ستون سو. د سیمي خلکو ورته درنښت درلودی. په ټوله سیمه کي به قاضي بابا د ټولنیز ستونزو او سیمیز حالاتو څارنه په دقیق نظر کول. روغي جوړې به يې کولې او د رواجي دودنو کلک مخالف او په خلاف به يې تکړه مبارزه کوله. د

مترقي سوچ خاوند ؤ. د قاضي بابا مثالي ژخصيت يا آئيډيال د افغانستان امير امان الله خان ؤ، کوم چي د خپل وژن او مبارزې له لاري د يوه داسي آزاد افغانستان د خوب په تعبير پسې ؤ چي د نړۍ پر سر لومړی مسلمان او جديد قومي رياستوي. ملا سلام د امير امان الله خان د اصلاحاتو او جدت کلک ملاتړ کاوه، او هغهٔ دا ارمان درلود چي د امان الله خان په توره او عقل دا پاشلي او بې سر نويشته پښتانه سره يو موټي او يو کهول شي.

د ملا سلام بابا د علمي او ادبي کارونه چي چاپ شوي دي په لاندېني ډول دي:

" ۱ سوسن چمن (د ملا صاحب لومړی اثر دی) ۲ . طلب مذهب دی ۳.زردانه در " (6)

د درو چاپي آثارو څخه د سوسن چمن څخه د قاضي بابا د هغو شعرونه کتنه کوو چي د نېشنلزم يا پښتون نېشنلزم بيانيه پکښي خوندي ده. هسي بابا په درو سره آثارو کي ځرک شته خو سوسن چمن يو هغه کتاب دی چي موږ ورته د پښتون نېشنلزم د شلمي صدۍ بنيادي سورس وئيلي شو. ځکه چي دغه کتاب په کال ۱۹۳۴ کښي انګريزي واکمنانو په اوور کښي واچولو او قاضي بابا د هم دې کتاب ليکلو په تور د زندان توري شپې تيري کړې

چونکه قاضي سلام بابا د پښتون ټولني د تاريخي پس منظر او اجتماعي قبائلي شعور سره بلد شاعر ؤ ځکه د هغه په شعر کښي موږ ته د پښتون ملت داخلي ستونزي هم په نظر راځي چي هغهٔ په ډېر هنر او بې باکه او بې رحمه سرجري کړې ده. د پښتون ملت سياسي شعوري پرمختګ ټولنيز تاو تربخوالی،کرکي،کرښي، بې اتفاقۍ سخته غندلي دي او د پښتون ملت جغرافيه ورته معلومه ده. اتلان وتلي اشخاص خويونه ، د فرنګي ملګرتيا او د دوی په خلاف مبارزه او داسي نور اسلامي او مذهبي حالات و واقعات په سوسن چمن کي راوړي دي. د سوسن چمن لويه برخه د امير امان الله خان په وياړ او مرستي پر شعرونه او شعارونو اډانه لري.هغهٔ امير امان الله خان د پښتون او مسلمان ملت د خلاصون يواځيني مشر بالهٔ، او کله چي هغهٔ د افغانستان څخه د فرنګي د دسيسو او چل ول په سوب و شړل شو، نو د قاضي بابا پر زړهٔ اوور بل شو، هغهٔ وختي هم شاعر ؤ خو د شاعرۍ باقاعده پېل يې د امير امان الله خان د وطن څخه د شړل کيدلو وروسته د ۴۷ کلونو په عمر کښې وکړ.

د هغه په جدائي کي يې ساندي ويلي دي او دا يې د پښتون ملت د غفلت خوب او بې اتفاقۍ سوب بللی دی. د بابا سياسي تګلاره هم ملت پاله ده، اکثره شعرونه د نېشنلزم په رنګ کښې رنګيدلي دي.

د سوسن چمن څخه د ځينو شعرونو بيلګي دلته وړاندي کوم:

"په قران اذادۍ عام پښتون پسې يو يا ميوند لره راځه يا بيزاري را
پر دکن نهرو نيولی فتح غواړو ربه ته په عقبا بله مزدوري را
مجاهد صمد خان هم په بند کي اوسې توکل کومک پر ګبر سامري را"(7)

قاضي بابا په لوړه وائي چي موږ پښتانه پر ازادۍ مئين يو او اذادۍ زموږ حق دی. ځکه ازادي اخيستل او پالل د انساني فعاليت او خويونو بنيادي نخښۀ وي. هغه خلک چي د ازادۍ په معنا پوه نه وي او ورته ارزښت لري نو بابا ورته د ميوند جنګ تشبيه کارولې ده. چي په ۱۸۸۱ کي په ميوند کي د انګرېز او افغان تر منځ يو داسي خونړې جنګ شوی دی چي په هغه کي انګريز ماته خوړلې ده او افغان بريا وړې ده نو بابا د قام پر وګړو د فرنګي په خلاف د ميوند د جنګ استعاره کارولې ده

د ازادۍ د قافلې مخکښ خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزی دا وخت د خپلواکۍ په مبارزه کي د فرنګي په زندان کي بندي کړی ؤ. خو قاضي بابا پر ملت ږغ کوي چي بايد همت وکو پر فرنګي سامراج باندي مځکه را تنګه کړو او خپله خاوره د فرنګي څخه ازاده کړو. بل ځای بابا قامي خوځښت او قامولي ته داسي اشاره کړې ده: .

"پښتنو د خوبه کشېنی دوړي راغلې انګريزانو و خوارج شو يو ملت
هر سهار نعرې وهم پر غافلانو په ښاخه کي څوک مي نه مني منت".(8)

نېشنلزم پرچارکور په کور تګ غواړي. اولس يې را بيداره کول غواړه او د اولس شعوري ذهني پر مختګ ته کار کول او د دښمن ور پېژندل په نېشنلزم کي لومړی دا ستر کار دی. ورسته بيا دا لړۍ د ازادۍ تر اخيستو پوري روانه وي. قاضي بابا د شعر په ژبه د هر ممبر څخه د پښتون قوم او ملت ته د قامي بيدارۍ او شعوري پرمختګ دپاره اوازونه کړي دي. او خپل ملت يې خبر کړی دی چي پام کوي او فهيميده اوسي. انګرېز او دننه د قوم وګړي په لږ څه مراعاتو سره ملګري دي. چي د قومي مبارزې په مخ کي خنډ دي او زه هر سهار په ښاخه کي پر خپلو نيږدې قريبانو باندي نعرې وهم. خو دوی بيا هم دا کار نه بولي او نه دا زما مبارزه ورته مبارزه ښکاري بلکې ټوکي ورته ښکاري. قاضي بابا د قامي مبارزې ابتداء هم دخپله ځانه خپل کلي څخه کړې ده.

داسي بيا بل ځای د ګندمک د تړون په هکله خپل نظر داسي وړاند ي

" خان ژورو ځان ته وکيندی کوهی تا و انګرېز ته ورکړو پښين اوکدنی تا
کاکړي و بلوڅي و ترين واړي پښتون اصل در ده لاندي کې مره يي تا".(9)

قاضي بابا په دا شعر کي د جغرافيايي او د خاوري د تقسيم مسؤليت د وخت د باچا تېروتنه يا کمزوري بولي کله چي په ۱۹۷۹ کي دګندمک معاهده وسوه نو پښين، سيوۍ، تل چوټيالي، او کاکړۍ سيمه دکندهار څخه را جلا شو او فرنګي په خپل واکمنۍ کي واخيست. د بلوڅو رياست يې په ۹۰۰۰ روپيۍ د خان آف قلات څخه په اجاره واخيست او قاضي بابا د وخت باچا ته داسي اشاره کوي چي د نن او د پرون غلامي سوب هم ته يې که تا لږ همت کړی وای نن به موږ به حثيت قام نه غلام

کیدو. قاضي ملا سلام بابا د قام دا ستړې او زلیله ورځ بې اتفاقي او د قام د لاس پوڅو خانان ملکان او سرداران ګڼي وائي چې.

" اتفاق خو فرنګي راسه یوووړی          مړ بې روحه پښتون پاته یو فقط
مشران ماړه د دوی موکونه اخلي          سر در تنګ غړوندي کاړې د ذلت".(10)

قاضي بابا خپل خان خوشحال ثاني وئیلي دي، او په دې حکله یې ډیر شعرونه شته. هغه د ستر خوشال بابا غوندي د پښتنو بې اتفاقۍ په زړۀ سوری کړی ؤ. قاضي بابا په سوسن چمن کښي بل ځای لیکي.

"انګریزانو نه پرېښو ذکر د خیر          د سلطان امان الله غازي ادیب
دا تحسین د فرنګي د خیاله چپ وو          ما کاوی د اتفاق په خوا ترغیب".(11)

په قامي مبارزه کي دا لویه ستونزه وي د مخالف اړخ څخه چي د ملي یووالي درس باندي بندیز ولګوي او ملي یووالي د قامونه دبریا زېری وي نو دښمن قوتونه هڅه کوي چي یا مبارز قام تقسیم وساتي او یو د بل یې په خلاف ودرې نو د اتفاق خبري ورته ګناه کبیره ښکاریږي. د ملي د استقلال د اخیستو سیمبول امیر امان لله خان ته مي د استقلال دساتلو دپاره هم دا درس ورکاوه خو فرنګي نه خوښوی که څه هم دا یو ښه کار دی خو فرنګي پر دا عمل بندیز لګولی وو ځکه چي د ملت مهم عنصر ملي یووالی دی د پښتنو کلتور یو هغه منبع ده چي د یو قوم د خپلوالکۍ او د سیالۍ مبارزه ژوندۍ ساتي او ورته درنښت ورکوي لکه قاضي بابا چي وائي.

"پښتنې ښې بدلې شوې سر ببره          نه وو څوک بد په دا کره کي مسلمان بد
نو ملت شو سره درو اویا پړکونه          انګلیسي وسوسې اروي اروحان بد".(12)

.قاضي بابا په قامي مبارزې کي د رهبر تابیعت اړین بولي ، وائي.

"د غازي امان لله مله وو انصار          اڅکزي دي دوردګ سره تیار
خان یو هم د زمانې خوشال ختېک دی          و هندي کفر ته وزي په ناتار
د قرآن په ترجمه یې عامه پوه کړو          مجاهد وچلاوی پښتون اخبار".(13)

د خوشال بابا سره ځان پرتله کوي چي زه هم دفرنګي زندان ته خپلو بوتلم داسي وایي.

"لوی سخر غورځول د لاري سه ځوزان ما          پټ د سترګو تر بیخ ګوري ما
ځان مي لړ ببهوشۀ واچوی بیده نه یم          روښي سترګي ویني ویښ سحر خېزان ما
خوشال خان زامنو ورکی و مغل ته          بند له خود ما بیائي تربرونه عزیزان ما".(14)

د قاضي ملاسلام ژوند او فکر د قامي يو والي يو داسي تمثيل دی چي د يوې صدۍ د تېرېدو وروسته اوس لا هم پښتانه ورڅخه الهام اخلي هغه د فقر او مسکينۍ ژوند تېر کړ، خو د پښتني ننګ، غيرت او خودي دستار يې د خپل وخت تر ډيرو شتمنو پتنو ډير اوچت ؤ او په ټوله سهيلي پښتونخوا کښې نن هم و هغه ته په زښت زيات درنښت کتل کيږي. هغهٔ د جنوري په ۲۶ نېټه په کال ۱۹۷۴ کي په شاخه کي په حق ورسېدی (15) او هم هلته په ښاخه کښې په خپله پلرنۍ اديره کښې ښخ دی.

# حوالې


1) Kohn, H. (2022, March 13). *nationalism*. *Encyclopedia Britannica*. https://www.britannica.com/topic/nationalism

(2) علی، ډاکټر مبارک،نیشنل ازم کیا هے؟ تاریخ پبلکشنز،(۲۰۱۷)،مخ ۲۲

(3)همدغه ، مخ ۲۲

(4) درانی،ډاکټر عبدالباقي،د فکر تال،چاپ صحاف نشریاتي موسسه ،(۲۰۱۳)،مخ ۱۱۵

(5) آزاد ،محمد نعیم،د ملا سلام اشېزي اند و هنر،پښتو ادبي غورځنګ کوټه،(۲۰۱۵)، مخ ۱۹

(6) رفیقي،ډاکټر عبدالروف،سوسن چمن، د قاضي ملا عبدالسلام اشېزي،ډاکټر خېړنیز مرکز کوټه،( ۲۰۱۹)،مخ ۱۳

(7) همدغه ، مخ ۹۱

(8) همدغه، مخ ۱۰۶

(9) همدغه، مخ ۹۱

(10) همدغه، مخ ۱۰۴

(11) همدغه، مخ ۹۷

(12) همدغه ، مخ ۱۳۳

(13) همدغه ، مخ ۱۴۹

(14) آزاد ،محمد نعیم ،د ملا سلام اشېزي اند و هنر،پښتو ادبي غورځنګ کوټه،(۲۰۱۵)، مخ ۱۲۸

(15) رفیقي، ډاکټر عبدالروف،سوسن چمن د قاضي ملا عبدالسلام اشېزي،ډاکټر خېړنیز مرکز کوټه،(۲۰۱۹)،مخ ۲۲